محمدهارون خپل شعشعي


١١/٠٣/٠٨

## بي بي شمسو:

## د زړورتيا، خپلواکۍ او ملي غرور نخښه

زمـوږ د ويـاړلي هيـواد( افغانـستان) تـاريخ، لـه اتلوالييـو او سربښـندنو ډک دئ . پـه دغـه راز ملـي او ولـسي سربښندنوکي، د توريالييو نارينه وو تر څنګ د دې خاورې زړورو مېرمنو او پېغلو هم، تل فعاله ونډه اخيستې ده . په خواشينې سره، د دې سرلوړي او تسخير نه کېدونکي تـاټوبې ټـول ريښتيني اتـلان اوجنګيـالي د زمـانو د نـاوړو پېښو له شامته په سمه او دقيقه توګه نـه دي پېژنـدل سوي؛ پرتميني نبـاني اوکارنـامې يـې کـرار کـرار د زمـانو تـر دوړو اوګرزونو لاندي هېري سوي دي . د همدې دليل له مخې دا لوی او ارزښتناک مسؤوليت زمـوږ د مؤرخـانو، څېړنکو او ليکوالو پر اوږو پروت دئ، چي د خلکو له شفاهي نکلونو او دودونو څخه په کار اخيستنې؛ او د هيواد د تاريخ پـه پټو اوتتو کونجونوکي د مستندو او مؤثقو څېړنـو پـر بنسټ، زمـوږ د خپلـواک هيـواد د داسـي ننګيـالييو نارينـــه وو او زړورو مېرمنــو لا بنــي پېژنــدني تــه مــلاوي وتــړي؛ څکــه همــدغو غــښتلو، ســرلوړو او خپلواکوشخصيتونو، په خپلو تلپاتو حماسو او سربښندنو سره د دې خاورې وياړلۍ تاريخ ليکلۍ دئ .

د دغه راز زړورو، آزادۍ غوښتونکو، پوهو او عرفاني شخصيتونو لـه ډلي څخـه يوه هم بـي بـي شمسو ده، چي حماسي او مجاهدي يي ديښتو او پاړسي ژبو د عارف شاعر - علي محمد مُخلص ( تر ١٠٦٩ هـ ق پوري په يقين سره ژوندی) په ادبي، تاريخي او عرفاني اثر ( حالنامهٔ بايزيد روښان )کي له پراخو تفصيلاتو سره راغلي دي؛ خو د هيواد معاصرو مؤرخينو او محققينو يي په خپلو آثاروکي د پېژندني او نمانځني حق په ښه ډول نه دئ اداء کړی.

د دې نېکي او عارفي مېرمني پلار شيخ حسن نومېده . شيخ حسن په پير روښـان مشهور د بايزيد انصاري اورمړ (٩٣١- ٩٨٠ هـ ق يا ٩٣١- ٩٨٣ هـ ق) اکا ؤ. البتـه، پير روښـان د دې خپلـواکي او سرلوړي خـاورې د يـوه غښتلي ملي او ولسي مشر ، عرفاني لارښود او لوړ فرهنګي شخصيت پـه توګـه هيڅ راز پېژنـدګلوی تـه اړتيا نـه لـري؛ څکـه د مغـولي تـاړاکګرو پـه وړانـدې د هغـه لـه زړورو معرکـو، عرفـاني طريقت او ارزښـتناکو علمـي - فرهنګي آثارو سره پرافغانانو سربېره د سيمي او نړۍ مؤرخين او څېړونکي هم پوره اشنايي لري .

« حالنامه » د دې زړورو او جنګيالی افغان مېرمني په اړه داسي کاږي : « کله چي شيخ حسن، د [ قاضي ] عبدالله وررور[ د پير روښان پلار ] وپوهېده، چي بايزيد سپېڅلی او نېک سړی دئ؛ او په مال کي يې زياتېدونکی برکت دئ، نو يې خپله لور، هغه ته په نکاح کړه . . . » ( مُخلص ۳۰) .

د دې مېرنی ، هوښياري او عارفي مېرمني په لمن کي داسي رشيد او جنګيالي زامن ( شيخ عمر، خيرالدين، نورالدين، کمال الدين او جلال الدين ) و زو کېده، چي دوی او راتلونکو پښتونو يې تر لږ و ډېر اويا کالو پوري د ګورګاني مغولو د ظالمانه واکمنی پر خلاف د افغانانو د خپلواکی غوښتني بيرغ رپاند ساتلئ ؤ . که څه هم په دې نابرابرو استعماري ضد مبارزوکي به کله برى د دوی په برخه اوکله به د مغولي يرغلګرو او د هغو د پېرل سوو نوکرانو په برخه ؤ؛ خو دې هوډمنو ننګياليو په هيڅ حالت کي د پردو مغولو او خپلو مزدورو واکمنانو ناروااوو او بې عداليتيو ته سر ټيټ نه کړ؛ تل يې د زمريانو په څېر په خپلواکی، مړانه او سرلوړی کي يې ژوند وکړ.

د حالنامي له روايت سره سم، پير روښان د خپل عرفاني سفر په لومړنيو پړاونو کي، خلوت او عزلت ته مخه کړه . بي بي شمسو د هغه له دې جلاوالي او ګوښه توب څخه ډېره اندېښمنه او خواشيني وه . مُخلص، په دې اړه داسي ليکي : « بي بي شمسو بېرېده، چي خدای مکړه پير دستګير قدس سره [ پير روښان ] قلندر سي؛ کور پرېږدي؛ او پر بله مخ ونيسي . . . پير دستګير قدس سره [ د بي بي شمسو د اندېښني په جواب کي ] و ويل : غواړم په بيديا کي حُجره جوړه کړم؛ او شپه و ورځ هوري تېره کړم؛ د نړی له خلکو بېل د خدای په ذکر بوخت سم . . . نابېره د لوی ښتن له خوا ږغ وسو: اې بايزيده! ته د مشاهدې مقام ته رسېدلئ يې؛ ستا وړ نه ده، چي نور په بيديا کي استوګه وکړې؛ بايد په خپل کور کي زما په لېدو او مشاهده اخته اوسي؛ زما شکر اداء کړې، چي ته مي له شِرکه را ويستي؛ او پټ رازونه مي در وښيل . . . » ( مُخلص ۸۸ ) .

بي بي شمسو په داسي حال کي چي اوميدواره وه، له ځينو نورو مُريدانو سره يو ځای په خپل کور کي د پير روښان پر لاس د عرفاني څلويښتي تغر غوړوي؛ ربړونه او کړاونه ګالي، چي له دې لاري د نفس سپېڅلتيا، د عرفاني اسرارو موندني او د توحيد پوهي ته ځان ورسوي ( مُخلص ۹۵- ۹۶) .

په دې ډول، بي بي شمسو د هغه روښاني طريقت لومړنی ښځينه لاروی وه، چي د يوه بي ساري او بي مثله ذات د پېژندني او خپلولو له پاره يې تر اتو عرفاني مقامونو ( شريعت، طريقت، حقيقت، معرفت، قربت، وصلت، وحدت او سکونت ) تېرېده، حتمي او ضروري ګڼل . « حالنامه » د جلا جلا نومونو په يادولو سره کاږي، چي تر بي بي شمسو وروسته د کلي کور ځينو نورو ښځو هم د روښاني طريقت لمن و نيوه . دا لړی د وخت په تېرېدو سره هري خوا ته ډېره پراخه سوه .

د حالنامي له متن څخه په ډاګه ښکاري، چي ښځو په روښاني عرفاني طريقت کي ځانګړی او ارزښناک ځای درلود. « حالنامه » د پير روښان د ښځينه مريدانو او مُخلصانو په ډله کي، د هغي سرسپارلي او وفاداري ښځي په زړه پوري کيسه بيانوي، چي يوه وخت له نورو روښاني جنګياليو او خواخوږو سره يو ځای د مغولي پوځونو په کلابندی کي بندي سوي وه . د دې سپېڅلي، بې باکي او مېړنی افغان مېرمني په نکل کي داسي راغلي دي :

پاچا[جلال الدين محمد اکبر (۹۶۳هـ ق/ ۱۵۵۶م - ۱۰۱۴هـ ق/ ۱۶۰۵م )] امر وکړ: ټول روښاني بنديان زما تر نظر تېر کړئ . ټول يې د پاچا حضور ته را وستل . پاچا له هر يوه پوښتنه کوله، چي د کومي قبيلي يې؟ هر يوه د خپلي قبيلي نوم اخيست؛ او پاچا رخصت ورکاوه . په پای کي د « خليلو» د قبيلي د يوې ښځي روَن را ورسېد، چي « بسی » نومېده . پوښتنه يې ځني وکړه، چي ته دکومي قبيلي يې؟ « بسی » ور ته وويل : زه روښانی يم . پاچا ورته و ويل : زه پوهېږم، چي ته روښانی يې؛ خو دا پوښتنه کوم، چي د کومي قبيلي يې؟ ورته ويې ويل :

زما قبیله روښانی ده . بل قوم او قبیله نه لرم . پاچا د هغي په خبرو ډېر خوشاله سو؛ ورتـه ويي ويل : ځـه ستا قبیله دي روښانی وي . تر دي وروسته « روښانی » د « بسی » لقب و ګرځيد( مُخلص ۴۳۸) .

پير روښان د ځينو عرفاني پراونو تر بشپړولو وروسته، سوداګری ته مخه کړه؛ او د دي مقصد لـه پـاره يـې د هغه مهال د لوی تجارتي او فرهنګي ښار - کندهار لار غوره کړه، چي لـه يـوې خوا ځان او کورنی تـه حلال رزق او روزي و مومي؛ او له بلي خوا هوری د داسـي کامل پير پلټنـه او ګرويږنـه وکـي، چـي د ده پـه بـاور د اسرارو او توحيد په پوهه خبر وي ( مُخلص ۹۰) .

پر کاروانيـانو او نـورو بـومي کنـدهاريانو د هغـه مهـال د مغـولي واکمـن - بيـرام خـان ( پـه ۱۵۶۱ ع کـي مـړ) د سپاهيانو او مزدورانو د زور زياتي تر لېدو وروسته د پير روښان مغولي ضد احساسات لا پر خوټېدو سوه . ډېر ژر د اوسني افغانستان د جنوبي او ختيځو سيمو يا د هغه وخت د « روه » او « پښتونخوا» پـه دښتو، غرو او لمنوکي د ګورګاني مغولو د ظالمانه يرغلونو او مستبدنظام پر خلاف د جګړي او مقاومت اورونه بل سوه . بي بي شمسو او مېرني زامن يي د پاځېدلو افغانانو د خپلواکی او عدالت غوښتني پـه دی نـه هېرېدونکو معرکو کـي د پير روښان تر څنګ ولاړه وه . د مغولي واکمنانو او سيمه ييزو مزدورو ډلو ټپلو پر ضد د پير روښـان نـه ستړي کېدونکي ملي او ولسي مبارزي اوږده کلونه رواني وي . د پير روښـان تر شـهادت وروسته د غيرتمنو افغانـانو د استـعماري ضـد مبـارزو مشـري د هغـه مشر زوی - شـيخ عمـر تـه وسپارل سوه؛ او پـه دي توګـه ددي ويـاړلي خاوري په هسکو غرونو او پراخو دښتونو کي زموږ د مېرني ولس د خپلواکی بخښوونکو مبارزو جنډي د پخوا په څېر رپانده وساتل سوي .

په خواشيني سره، څه موده وروسته، شيخ عمر له دوو سکه ورونو ( نورالدين او خيرالدين )، يوه ناسکه ورور ( دولت ) او ځينو نورو غښتلو ملګرو سره يو ځای، د تاراکګرو مغولو د جاهلو مزدورانو له خوا په هغه جګړه کي په ډېري بي رحمی او قساوت و وژل سوه، چي په تاريخ کي د لويي غزا پـه نامـه ياديږي . تر دي غمجني پيښي وروسته ځينو پلورل سوو اوبي رحمو اجيرانو د شيخ عمر او دولت پري سوي سرونه د خيرالدين لـه يوه لاس سره، بي بي شمسو ته ور وړه . زړوري او مېړه مخي پښتني مور - بي بي شمسو د شيخ عمر او دولت سرونه او د خيرالدين لاس مچ کړ؛ او و يي ويل : « پر تاسو دي د خدای رحمت وي، چي پـه ټينـګ هوډ سره ولاړ است؛ خپله اراده او همت مو پري نښوول؛ او ځانونه مو د حق په لاره کي و ښندل . ورپسي يـې « يوسفزو» تـه مخ ور واړوه؛ او ويي ويل : « زما زامن پر غلا او زنا نه دي وژل سوي، چي سرونه مويي پري کړي؛ او ماتـه مو را وړي دي . زما زامن مړونه وه . ستاسي ډېر يي تر تيغ تېر کړه؛ په پای کي خپله هم و وژل سوه؛ او دا ګرده د خدای تعالی له لوري ګڼم؛ کـه نـه تاسي دونـه واک او قدرت چيري لرئ، چي زما بچيانو تـه بدي ورسوئ .» ( مُخلص ۴۲۷) .

دا دئ د يوې زړوري، هوډمني او باغروره پښتني مورد زغم، صبر، مېړنتوب او عرفـاني تفکر هغه لوړه او بـې ساري بولګه، چي مثال يې نـه يـوازي د دي هيـواد، بلکـي د نړی د نـورو هيـوادو پـه تـاريخ کـي هم ډېر لږ موندل کيږي .

د روښاني طريقت د خليفه او د پښتو دنوميالی عرفاني شـاعر - دولت لـواني ( تر ۱۰۶۹ هـ ق پوري پـه بـاوري توګـه ژونـدی) پـه ديـوان کـي لـه دي بيت څخـه پـه ځرګنده ښـکاري، چـي د پير روښـان زامنـو پـر زړورتـوب او نارينتوب سربېره، په تقوا او عرفاني مجاهدوکي هم نوم وړی ؤ. هغه وايي :

## نـورالدين، خيـــر الدين، كمـــال الـــدين، دولت، شيخ
## پـــه كـــوښښ يـــې خپل وژلـــی نفس كـــافـــــر ؤ

د بی بي شمسو د زامنو د شهادت تر سترناورين وروسته، د افغان ولس د خپلواکی غوښتونکي غورځنګ مشرتوب د هغي تر تولوکشر زوی - جلال الدين ته ورسېد . هغه په داسي حال کي، چي تر پينځلسو - شپاړسو کالو زيات عمر يي نـه لاره، د زماني د روستمانو پـه ځېر د هيواد او خلګو د ظالمو دوښمنانو پر خلاف د جګړی ډګر تـه ووت؛ او پـه هره مورچل کـي يـې پـه ډېر رشـادت او شـهکاری سره د مغولي واکمنـانو او د هغو د سيمه ييزو مزدورانـو پـه وړانـدي ميړنـی مقاومت وکړ. بي بي شمسو او د پير روښـان د کورنی نـور غړي هم پـه دي نـه هېرېدونکو معرکو او حماسو کي له جلال الدين سره څنګ پر څنګ ملګري وه .

جلال الدين د خپلو ملي او ولسي مبارزو په ترڅ کي يوه وخت د مغولي پوځونو د بريدو د فشار لـه امله اړ سو، چي خپله ميرمن او د کورنی نور غړي په باجوړ کي پرېږدي؛ او خپله له ځينو ملګرو سره د کابل او هندوکش لـه لاري بلخ ته ولاړ سي؛ او د هغه وخت د بلخ او مـاوراء النهر د واکمن - سـکندرخان لـه زوی عبدالله خان څخـه د مرستي په تر لاسه کولو سره، د خپلو غښتلو او پياوړو جنګياليو ليکو تـه نـوی واک او ځواک ور کـړي . بـي بـي شمسو له خپلي ناوي او ځينو نورو نيژدې خپلوانو سره خوست ته ولاړه، چي په دې توګه د« وزيرو» په قبيله کـي ځانونه له مغولي تاړاکونو څخه خوندي وساتي . دا پيښه په زرم هجري قمری کال ( ۱۰۰۰ هـ ق) وسوه . د همدې جنګي او اضطراري حالاتو په ترڅ کي د جلال الدين هوښيار، مُدبر او نوميالی زوی - الهداد ( وروسته پـه رشيد خان ملقب؛ په ۱۰۵۸ هـ ق کال د هندوستان په آورنګ آباد کي مړ؛ او بيا په شمس آباد کي ښخ) د ملک قاسم خان بنګښ له لور- بي بي بصری څخه وزوکېد( مُخلص ۴۲۷) .

بي بي شمسو په سيمه کي د مغولي لښکرود بريدونو بېلابېلو خطرونو ته پـه پام سره د « وزيرو » پـه قبيلـه کـي د جلال الدين د ميرمني، ماشوم او دکورنی د نورو غړو استوګنه خوندي و نه ګڼله؛ نو ځکه يـې د « دادک کندهاري » په لاربنوونه، له خوست څخه شال ( اوسنی کوټي) ته مخه کړه؛ او هوری يي د حالنامي د عالِم او فاضل ليکوال - علي محمد مُخلص د پلرني نيکه - عثمان کاسي په کورنی کي سرونه نيهام کړه . د پښتو ژبي لوړ او پياوړی عرفاني شاعر- ميرزا خان انصاري اورمړ ( پـه ۱۰۴۰ هـ ق کال، د دکن په جنګ کي مړ)، چي هغه مهال کوچنی ماشوم ؤ، هم په دې سفر کي له دوی سره ملګرتيا کوله ( مُخلص ۴۵۶) .

تر هغه مهاله، چي جلال الدين په بلخ کي ؤ، بي بي شمسو دکورنی له نـورو غـړو سره پـه « شال » کي اوسېده . لکه څنګه چي « حالنامه » ليکي، پـه دغو شپو او ورځو کي پـه« شال » کـي هم د خلګو پر ژوندانـه د مغولو د بيري او وحشت کرغېړن سيوری پروت ؤ . د عثمان کاسي دکورنی غړي اندېښمن وه، چي خدای مکړه د کلي کور جاسوسان او غمازان د « پښين » يا «کندهار» مستبدو مغولي واکدارانو ته مخبري وکړي؛ او پـه دې توګـه د هغوی د قدرمنو او ښاغلو ميلمنو ژوند له جدي خطر سره مخامخ کړي .

له بلخ څخه تيراه ته د جلال الدين تر ستنېدو وروسته، بي بي شمسو او د کورنی نـور غړي بيرتـه لـه هغه سره يو ځای سوه؛ او د مغولي حکمرانـانو پر خـلاف د افغانـانو د استعماري ضد مبارزو لړی يو ځل بيا پـه ډېر زور او شدت سره، پيل سوه . په يو زر و نهم هجري قمري ( ۱۰۰۹ هـ ق) کال د روښاني غورځنګ له ليکو سره د علي محمد مُخلص د مُدبراو زړور پلار - ابوبکر کندهاري ( پـه ۱۰۳۴ هـ ق کال د هندوستان د اوړيسي پـه « ميدني پور » کي مړ) او نـورو غښتلو کندهاري جنګيالو تر يو ځای کېدو وروسته، د مغولي اشغالګرو او سيمه ييزو

مزدورو واکمنانو پر ضد زموږ د خلکو په خپلواکی بخښوونکو ملي مبارزوکي نوي سا پو سوه . لکه څنګه چي د حالنامي ليکوال کاږي، د روښاني غورځنګ نوميالی مشر- جلال الدين د نوو ورغلو کندهاري يارانو په ليدو ډېر خوښ سو. « کله چي بي بي شمسو رضی الله عنها ته ورغی، له خوشالی يي ورته وويل :

ګراني موري!

مبارک دي سه! ستا دري سوه سپاره وسله وال زامن راغله .

بي بي ور غبرګه کړه : ستا دي هم مبارک سي . » ( مُخلص ۴۲۷)

په خواشينی سره تر دي تاريخي پېښي وروسته د بي بي شمسو د ژوندانه په اړه څه روښانه او مستنده خبره نه تر سترګو کيږي؛ خو د « حالنامي » له متن څخه په ضمني توګه داسي ښکاري، چي دا مېرنی، هوښياره او عارفه مېرمن په يو زر و دولسم هجري قمري ( ۱۰۱۲ هـ ق) کال د خپل د پينځم اوکشري زوی - جلال الدين تر شهادت وروسته، نوره ژوندی نه وه ( خدای په حقيقت ښه پوهېږي) .

د دي خدای دوسته، عارفي او مېړنی مېرمني تر مړيني وروسته د هغي لمسيانو او کړوسيانو هم کلونه کونه د خپلو نوميالييو مشرانو په شان د مغولي يرغلګرو او سيمه ييزو واکمنانو پر خلاف د مبارزي بيرغونه رپانده وساتل؛ او پر سياسي ډګر سربېره يي په فرهنګي او عرفاني برخو کي هم ډېر لوی او ګران بيه آثار په ميراث پرېښول . سپېڅلي ارواوي دي ښادي او لوړ نومونه دي تل تر تله ژوندي وي .

---

مأخذ

مخلص، علی محمد. حالنامهٔ بايزيد روښان . نقل از سرمحقق دوست شينواری و معاون سر محقق نورالله اولسپال . کابل : پښتو ټولنه، مرکز زبانها و ادبيات، اکاديمی علوم افغانستان،۱۳۶۴. (چاپ ګستتنری)

د حالنامي اصلي خطي نسخه ( ۵۲۶) مخونه لري، چي د هندوستان د اترپردېش ايالت، د عليګړ د اسلامي پوهنتون ( عليګړ مُسلم يونيورسيټي) د ابوالکلام آزاد د کتابتون په سبحانه الله کلکسيون کي په ۳۷۰ /۹۲۰ لمبر خوندي ده . د دې خطي نسخي نقلونه، په پنجاب يونيورسيټی او د پېښور په پښتو اکاډيمی کي هم ساتل سوي دي . د افغانستان د علومو اکاډيمی همدا اوسنی ګستتنري نقل د عليګړ پوهنتون د خطي نسخي له مخي برابر سوی دئ، چي په خواشينی سره له خورا ډېرو تېروتنو ډک دئ؛ او په اکاډيميکه بڼه جدي او دقيق سمون ته اړتيا لري . په دې ورستييو وختوکي چا زېری وکړ، چي د جلال الدين اکبر له زماني څخه د اورنګزيب د پاچهی ترکلونو پوري د پښتنو د عرفاني، ادبي ، اجتماعي او سياسي ژوندانه په اړه دا مستند او باوري کتاب، له نېکه مرغه د پښتو ژبي، ادب او تاريخ د وتلي او منلي استاد- ارواښاد علامه عبدالشکور رشاد ( ۱۳۰۰ – ۱۳۸۳ هـ ش) له سريزي، تعليقاتو او لغتنامي سره چاپ سوی دئ .